ليکوال او شناند: نظرمحمد مطمئن
۲۷ می ۲۰۱۵

# دا ناهیلی افغان ماشوم

ښائسته ماشوم به وي، زړه او خیرنه نیم متر د توکر توټه به یې په لاس کې وي، د سهار د مکتب وخت به یې وي، د یو لوړ بیه کروزینګ د ښي اړخ شیشه به په داسي حال کې ورپاکوي، چې د موټرانو په ګنه ګونه کې موټر تیز نه شي تللای، او دهمدې کار له امله به په کروزینګ، هایلوکس او کوم بل لوړ بیه موټر کې د مخي چوکی کې ناست سړي ځخه د ۵ ، ۱۰ او یا هر څومره چي وي پیسو غوښتنه کوي. د ژمي په ورځو کي به دغه ماشوم په یخه هواء حتی په واورو کې همدا کار کوي، خو په موټر کې ناست کسان به د موټر ګرمي بخارۍ ته ناست وي، او شیشه به هم نه ورته کښته کوي، د دوبی په ګرم موسم کې به د همدې لوړ بیه موټرانو کې ناست کسان د موټر ایرکندیشن ته ناست وي، او هغه ماشوم چي د ۵ افغانیو تر لاسه کولو له پاره ددوی د موټر شیشي په روان حالت کې ور پاکوي، په ګرمه هواء کې به ورسره منډي وهي، خو په موټر کې ناست کسان ډیر وخت شیشه ورته نه کښته کوي.

په کابل کې یو، دوه، سل، دوه سوه او زر داسي ماشومان (هلوکان او نجوني) نه دي، له دي نه یې شمیر زیات دی، لسګونو زرو ته رسیږي، د ښوونځي وخت کې ددوی همدا کار وي چې د موټرانو پسي منډې وهي، او که وتوانیږي په موټر کې ناست خلک دده په اړه ترحم ته وهڅوي.

ډیری چلونکي خو بیا په ډیر قهر سره پر ماشوم رړغ وکړي، هلکه صافه (د توکر ټوټه) دي خیرنه ده، زه ولاړشه د موټر شیشي مي را خیرنوي، مه یې پري موښه، مه یې پاکوه.

او ځیني خو داسي وي چي دهمدي ماشومانو له پاره یې د ۲ افغانیو لوټونه په موټر کې ورسره ایښي وي، کوم ماشوم هلک یا نجلی چي ډیري منډي ورسره ووهي بیا نو دوه ګون ورته ورکړي.

ما ډیر ځله داسي ښکلي او نازنین ماشومان لیدلي دي، د ډیرو لوړ بیه موټرانو شیشه ورته پاکوي، خو پکې ناست ښاغلي بیا دومره زحمت هم نه کوي چي ورته ووایي چي ولاړ شه ، میده پیسی نشته، همداسي ماشوم هلک یا نجلی ورسره منډي وهي، او بالاخره یې تمه وخیږي، ناهیلي پاتي شي. بیا نو ځاري چي کوم بل موټر ته ځان نږدې کړي که د هغوئ د ترحم وړ وګرځي.

کابل ښار کې چې د ماشومانو د غه زورونکی حالت سړیویني،  بیا کله ناکله د فیوډالیزم او مارکسیزم نظریي رایادي شي، دواړه نظریي د اسلام خلاف نظریي دي، مګر ممکن دهمدغسي ناهیلیو زیږنده وي.

که اسلام موږ عملي کړو، نو بیا به ددغسي ماشومانو منډو او بد حالت ته اړتیا نه وي، له دي ها خوا په کابل ښار کې سوالګر دومره زیات دي، چې کله هم موټر په ګنه ګونه کې په کرار تګ سره روان وي، د موټرو  شیشو ته ماشوم

هلک، نجلۍ او یا میرمن ولاړه وي او د سوال غوښتنه کوي، اوس خو خبره دي ته رسیدلي چې کله په کوم پټرول پمپ موټران تیل اچوي هم ورته سوالګر ځیني وختونه ولاړ وي.

یوه ورځ شاه دوشمشیره ته نږدې مي یو ډیر ښکلي ماشوم ولید، چې نږدې د ۸ کلونو به و، هغه خوار د سپین لوړ بیه کروزینګ موټر کې کیڼ اړخ ته ناست صاحب سره په ځمکه منډې وهلې، او موټر به کله ارام کله لږ تیز شو، ماشوم له همدې موټر سره ډیر زیات ولاړ، او تر اخره هم هغه ناست سړي شیشه ورته کښته نه کړه، هلته مي وویل چې که همدا ماشوم سبا واک ته ورسیږي له ده سره به د شتمنو اړوند کوم احساس وي؟

یو بل ناسم دود چې اوس په کابل ښار کې رواج دی، کله چې کوچنی (۵نفره کرولا یا سراچه موټر) سواري خیږوي، بیا به هم د ښوونځي د عمر ښکلی ماشوم په لوړ اواز نارې وهي چې هله کوټه سنګي، حصه دو، حصه ۳، چهار راهي قمبر، دارالامان ...

کله چې موټر ته پنځه کسان ورپورته شي، بیا نو ټکسي چلونکي همدې ښایسته ماشوم ته ۴ یا ۵ افغانۍ ورکړي، او ځیني وختونه خو ما داسي هم لیدلي چې کله د ټکسي سوارلي ورته پوره کړي، او ماشوم ډیر زحمت وکاږي، چلونکی خدای ناترسه همداسي موټر ورځخه وزغلوي او همدا ۴ یا ۵ افغانۍ هم هغه ماشوم ته ورنه کړی، نو بیا چې کله همدا ماشوم لوی او  واک ته ورسیږي له ده سره به د شتمنو اړوند کوم ډول احساس وي؟

هلته به یو بل ماشوم د دوکان په دروازه کې ودریږي، سپلني به یې په لاس کې وي، د نظر وچ له پاره به د دوکان دننه دود وکړي، خو دوکاندار به پرې ږغ کړي، زه هلکه ولاړ شه، د سپلنو بوی راباندي ښه نه لګیږي، هلک چې د ۲  افغانیو ترلاسه کولو په موخه به یې همدا کار کاو، بیا هم ناهیلی روان شي، بیا به همدا هلک د کوم موټر شیشي ته ودریږي، او هغه ته به وایي چې ماما شیشه کښته کړه سپلني درته دودکوم، هغه صاحب به ورته نظر هم نه کوي، که د کوم موټر شیشه کښته وي، او همدا ماشوم د شیشي ځخه موټر ته د سپلنو هغه دود ور پوه کړي، بیا به هم کله ناکله ترټل کیږي او چلونکی به ورته وایي چې ولې دي موټر کې دود وکړ، خو کله ناکله به ۲ افغانۍ یا ۵ افغانۍ هم تر لاسه کوي.

دغه د سپلنو د دبلي په لاس ماشوم چې هره ورځ د شتمنو له خوا له ډول ډول ناهیلیو او ناسم چلند سره مخ کیږي که همدا ماشوم لوی او واک ته ورسیږي هغه وخت به یې د شتمنو اړوند کوم احساس وي؟

یو ښایسته ماشوم به په افغانۍ جامو یا پتلون کې د موټر شیشي ته ولاړ وي، د ژاولو (ساجک) بنډلونه به ورسره وی، جوس به ورسره وي، او یا کوم بل ارزان بیه شی، هغه به په موټر کې ناستو کسانو ته وایي چې ماما! نن مې سودا نه ده شوې، همدا ساجک په ۵ افغانۍ درکوم وایي خله، خیر یو دانه خو واخله، خیر یو جوس واخله، ټوله ورځ مې سودا نه ده شوې، بیا به هم کله ناکله همدا ماشوم له همدې موټر ځخه هم ناهیلی روان شي، دومره ناهیلی به وی چې په ټوله نړۍ کې به داسي ځوک په نظر نه ورځي چې دده سره دده د کورنی د یوې ګولي ډوډۍ په پیداکولو کې مرسته وکړي، همدا ماشوم چې بیا واک ته ورسیږي، د شتمنو اړوند به کوم احساس لري؟

د سیند پر غاړه به د مېلي له پاره ځوانان ناست وي، هلته به ماشوم یوه درنه تخته په غاړه ودریږي، دهغه سره به د ۵ افغانیو یا ۵ کالدارو (جلال آباد کې) زنې په وړو خلطو کې وي، ورسره به ممپلي او نور د خوراک شیان وی، ټول به ارزان بیه وي، ځوانانو ته به دریږي، او کله خو به دا ماشوم هلک یا نجلۍ رشخند کیږي هم، همدا ماشوم چې ګرده ورځ په ګرمۍ او یخ کې یې همدا تخته په غاړه وي، چې کله  واک ته ورسیږي کوم احساس به د شتمنو اړوند ولري؟

په شمالي او پغمان کې به ماشوم پیره کې/ بولاني (یو ډول په غوړو کې سره شوې ډوډۍ چې په منځ کې یې کچالو او یا ګندنه وي) په لاس کې وي، هغه ځوانان چې د مېلې له پاره تللي وي، ډلي ډلي ناست وي، هرې ډلې ته به دریږي، وایې به کورنۍ بولاني دي، ډیر خوندور دي، نن مې سودا نه ده شوې، وایي خلی، خو بیا به هم په ناهیلۍ روان شي،

دا ماشوم هلک  یا نجلی به ګرده ورځ ګرځي، هلته به ګوري چي په مېله ځای کي ځوانان او پېغلي ډول  ډول خوراکونه کوي، ماهیان، د پسه د غوښو کړایي، تازه تازه میوې به یې مخته ایښي وي، خو همدا ماشوم به سرګردانه ګرځي که څوک یې د ۵ افغانیو او یا ۱۰ افغانیو بولاني ورڅخه واخلي، همدا ماشوم چي واک ته ورسیږي دده سره به هغه وخت د شتمنو اړوند کوم احساس وي

په هوټل کي به ځوانان او خلک ناست وي، هغوی به ځان ته ښه ښه خوراکونه راوغواړي، بیا به یو هلک یا نجلی دړه (یو ډول تخته) په غاړه ددوی تر څنګ ودریږي، وایي به ماما! ستاسي بوټونه رنګ کړم؟ دلته به دغه خلک هیڅ ږغ نه کوي، بیا به همدا ماشوم ووایي ماما ډیر ښه به یې درته رنګ کړم، ستاسي بوټونه رنګ غواړي، خیرن شوي، دوړې پرې شوې، بیا به هم دا ماشوم په داسي حال کي چي د همدې خلکو مخکي ډول ډول کبابونه، وریجي، پیپسی او نور هر څه ویني کوم یو به پرې ږغ کړي، هلکه لاړ شه، په عذابوه مو مه، نه یې رنګو، ماشوم به ناهیلی شي، خو د وروستي ځل له پاره به بیا ووایي چي نن مي کار نه دی کړی، خیر ماما ستاسي بوټونه به ورنګوم، چي هر څو پیسي مو زړه وی هغومره راکړئ، خو بیا به هم د ناهیلۍ اواز اوري، دغه ماشوم چي کله واک ته ورسیږي، د شتمنو اړوند به یې احساس څه ډول وي؟

هلته یو بل ماشوم وي، دهغه سره کوچنی ترازو په لاس کي وي، د ځوانانو مخکي ودریږي، وایي ماما! ځان تلی (خپل وزن معلوموئ)، ځوانان به وایي څو پیسي غواړي، ماشوم وایي په یوه نفر ۵ افغانی، بیا به همدا ۵ ځوانان وایي که ټول په ۱۵ افغانی کوي، ماشوم وایي سمه ده کار نشته، اخر به بیا همدا ځوان ورته ووایي نه نه! موږ ځانونه  نه تلو، ماشوم هلک  یا نجلی به ناهیلی/ناهیلي روان شي.

همدا ټول ماشومان (هلوکان / نجلی) چي ما یې یادونه وکړه او یا خو د لیکني د اوږدوالي له امله ددوی نور سخت او زړه دردونکي کارونه مي یاد نه کړل، ددوی عمرونه د ښوونځي له پاره دي، دوی باید په ښوونځي کي استاد ته په ټولګي کي ناست وای، دوی باید پاکي جامي اغوستي وای، دوی باید د راتلونکي له پاره روزل شوي وای، دوی هم باید د شتمنو خلکو د زامنو ترڅنګ د ښوونځي په ټولګي کي په چوکۍ کي ناست وای، خو د نږدې ۳۷ کلونو جګړو افغانان دومره ځورولي چي ډیری کورنی بې سرپرسته دي، ددوی هم مجبوریت دي چي د همدې ماشومانو ګټي ته کښیني چي که کار وکړي نو ممکن د ټولي ورځي ګټه به یې له ۵۰ افغانیو تر ۸۰ او سلو ورسیږي.

د نړیوالي ټولني بې حسابه پیسي هم ددې ماشومانو په درد ونه خوړلې، هغه هم شتمنو چارواکو ورنه غلا کړې، ددوی حقونه یې په خپلو اولادونو وخوړل، د ښوونځي ودانی یې هم ورنه غلا شوې، د ښونځي نوم شته، پیسي اخستل شوې، مګر یواځي د کاغذ پر مخ یې راپور شته، په سېمه کي ښوونځي نشته، هغه غوړي او بسکویټ چي په جنوب کي په ښوونځیو کي ماشومانو ته ورکول کیدل هغه به هم ښوونکو ورنه  غلا کول، او خپل پوره حق به یې ماشوم ته نه ورکاو.

په دغسي یوه ټولنه کي چي د ماشوم ځای پکي نه دی معلوم، د ماشوم قدر پکي نشته، ماشوم ته پکي په درنه سترګه نه کتل کیږي، د ماشومانو د حقونو تش په نوم  ځیني اداري هم یواځي د غلا په نیت جوړي وي، که همدا ناهیلی ماشوم، همدا له خپلو حقونو محروم شوی ماشوم بیا لوی او واک ته رسیږي، د شتمنو او خپلې ټولني اړوند به یې احساس څه ډول وي؟

افغان حکومت او لویدیځوال چي د ماشومانو د حقونو ناري وهي، د نجونو د حقونو ناري وهي، د میرمنو د حقونو غوښتنه کوي، هغوئ چیرته دی، آیا همدا ماشومه نجلی د سبا پیغله، خور او مور نه ده؟ رښتیا هم چي د لویدیځوالو د میرمنو د حقونو اواز کوم بل هدف لري، که نه تر هرچا همدا ماشومه نجلی ډیره مستحقه ده چي دهغې د ژوند په اړه ورسره مرسته وشي، هغې ته زمینه برابره شي چي د نجونو ښوونځي کي درس ووایي.

یا الله زموږ دا ښکلي بې وزله، غریب او محروم ماشومان چې د کورنۍ او د ټولنې د راتلونکي تمې ورپورې تړلي، له دغه بد حالت څخه یې وژغورې، یا الله موږ تاسې ته سوال کو، د پردیو په لاس جوړ شوې حکومتونه به هیڅکله هم د افغان ولس اساسي ستونزو ته پام ونه کړي.